# دتاجیکستان د جمهوریت اساسي قانون

**سریزه:**

مونږ، د تاجیکستان ملت د نړیوالي ټولني  دیوه برخي په توګه د تیرو، اوسنی او راتکونکي نسلونو په وړاندي مسوول پیژنو او د دولت حاکمیت محترم ګڼو، د اشخاصو حقوق مهم او سپیڅلي ګڼو او د ټولو ملتونو او د تاجیکستان د خلکو د برابری په اصل معترف یو، د هغي ټولنی شتون چی پرحق او عدالت ولاړ وی، خپله دنده ګڼو اودغه ټول د تاجیکستان د اساسي د بنسټیزو اصولو په توګه اعلاموو.

## لومړي برخه

## د اساسي قانون کلی اصول

**لومړي اصل:**

دتاجیکستان جمهوریت مستقل، دموکراتیک، حقوق بنیاد، دنیوی او واحد دی. تاجیکستان ټولنیز دولت دي او د هر انسان لپاره د وړ ژوندانه او آزادي ودي شرایط  به جوړوي. د تاجیکستان جمهوریت په تاجیکستان هم مانادي.

**دوهم اصل:**

دهیواد رسمی ژبه تاجیکي ده همدارنګه روسی ژبه د ملیتونو دمعاشرت په توګه عمل کوي. ټول هغه خلک چی د تاجیکستان د جمهوریت په خاوره کي ژوند کوي حق لری په آزاده توګه له خپلی مورنی ژبی څخه ګټه واخلی.

**دریم اصل:**

د تاجیکستان دولتی نښانونه  بیرغ، آرم او ملی سرود دي.

**څلرم اصل:**

دتاجیکستان پلازمینه  د دوشنبه ښار دي.

**پنځم اصل:**

د وګړو د حیثیت او ناموس او آزادي حقوق مقدس دي، دولت د وګرو حقوق او آزادی منی او ځان د هغو په رعایتولو او ساتنو ملزم وي.

**شپږم اصل:**

په تاجیکستان کی ملت د استقلال او آزادی بیانوکی او یوازی د دولت د حاکمیت سرچینه ده چی دغه اصول اساسی قانون له واسطی پرته یا د خپلو استازو له لاړی پلی کوی.

هیڅ یو له سیاسی ګوندونو، ټولنو، منفی ګروپونو او یا کوم فرد حق نلری چی دولتی حاکمیت تصرف کړی. دحاکمیت سلبول ترټولو لوی جنایت دی.

دتاجیکستان د ملت ویاند جمهور رئیس او د مجلس رئیس دی.

**اووم اصل:**

د تاجیکستان د هیواد حدود او خاوره تجزیه نه منونکی دی.

تاجیکستان دبدخشان دغرنی خودمختاره ولایت، ولایتونو، ښارونه، ناحیی ښارگوټو اوکیلو څخه عبارت دی. دولت د تاجیکستان خپلواکی او دځمکنی بشپړتیا ساتنه کوی.

دکړنو، عملیاتو او اقداماتو چی د هیواد د بیوالی او تجزیی سبب کیږی، ممنوع دی. دواحدونو جمهوریت د پولو تاسیس او تغییر د اساسی قانون له لاری تنظمیږی.

**اتم اصل:**

د تاجیکستان په جمهوریت کی د ټولنی ژوند د بیلا بیلو سیاسی عقایدو او ایدلوژیو د شتون پر بنسټ ولاړی دی، هیڅ یو فکر له هغی له جمله مذهبی فکر نشی کیدای چی دولت پرهغی اعتراف وکړی. اتحادیي د تاجیکستان د اساسی قانون د اصولو او د عادی قوانینو پر بنسټ جوړ اوپردغه مبنی به عمل کیږی.

دولت د ټولنو او ډلو دفعالیت لپاره مساوی او یو شان امکانات وړاندی کوی. دینی سازمانونه له دولت څخه بیل (دین او سیاست د بیلوالی اصل) اودغه تشکیلات د دولت په چاروکی لاس وهنه نه شی کولی.

دهغو اتحاد یو چی نژاد پالنه، قوم پالنه، خصومت او بد بینی او ټولنیز او مذهبی دښمنی د ملت د افرادو په منځ کی تشویق او هڅوی او له زورڅخه غواړی حکومت و پرځوی او مسلح ډلی تاسیس کړی، ممنوع دی.

**نهم اصل:**

د تاجیکستان پرهیواد حاکمی قواوی عبارت: ۱- مقننه قوه ( قانون جوړونکی قوه)، ۲- مجریه قوه (اجرائیه )، ۳- قضائیه قوه ( محاکم) څخه دی.

**لسم اصل:**

د تاجیکستان د هیواد د اساسی قانون اصول داعتبار او ارزښت له اړخه په لوړه سطح کی موقعیت لری او ددغو اصولو پرمعیارونو مستقیماً عمل کوی، عادی قوانین او نور حقوقی اسناد چی د اساسی قانو د اصولو سره په ټکرکی وی حقوقی اعتبار نلری، ټول دولتی مقامات اوصاحب منصبان او دملت افراد او د دوی اتحادی داساسی قانون د اصولو او په نورو عادی قوانینو ملتزم و هغه اجراً کوی.

هغه نړیوال اسناد چی د تاجیکستان هیواد هغه منلی او لاسلیک کړی ئی دی، معتبر او لازم الاجراً دی. که چیری د تاجیکستان د جمهوریت قوانین له هغو نړیوالو حقوقی اسنادو سره چی قبول او امضأ وی، مطابقت ونکړی نړیوال حقوقی اسناد معتبردی.

هغه نړیوال موافقتنامی او تعهدات چی د تاجیکستان دولت هغه منلی او لاسلیک کړی دی، په رسمی ورځپاڼه کی ترخپریدو وروسته اجرائی وړتیا مومی.

**یوولسم اصل:**

د تاجیکستان سیاست پرسوله ایز اصل ولاړاو د نورو هیوادونو سره د استقلال او ارضی تمامیت ته درناوی کوی او خپل بهرنی سیاست د قوانینو پربنسټ او نړیوالو سیاستونو سره سم ټاکی. د جگړی هڅول ممنوع دی.

د تاجیکستات هیواد د خپل ملت دگټو پربنسټ له نړیوالو ټرونونو سره ملحق او یا له هغه څخه وځی او یا له نورو هیوادونو سره اړیکی جوړوی.

دولت له خپلوهغو اتباعو چی نورو هیوادونو کی میشت دی، مرسته کوی.

**دولسم اصل:**

د تاجیکستان د هیواد اقتصادی نظام د مالکیت مختلفی بڼی جوړوی. دولت د اقتصادی آزادی سوداگری فعالیتونو او دټولو د مالکیت د بڼو د منافعو څخه ساتنه او له هغی جملی خصوصی مالکیت تضمینوی.

**دیارلسم اصل:**

ځمکه، د ځمکې لاندې زيرمې، اوبه، فضأ د نباتاتو او حيواناتو عالم د دولت ملکيت دی، دولت د ځمکې او نورو طبيعي سرچينو او د ژوندانه د چاپيريال منابع چې د تاجيکستان د خلکو (ملت) ګټې په هغه کې دي، تضمينوي.

**څوارلسم اصل:**

دانسان حقوق او آزادي د اساسي قانون د اصولو، عادي قوانينو او نورو نړيوالو اسنادو چې د تاجيکستان د دولت لخوا منل او امضأ شوي دي تنظيم او ساتنه کيږي.

دحدودو تعيين او آزادي محدوديت يوازې د اساسي قانون اصول او عادي قوانين دي او تنها د ټولنې د افرادود د حقوقو د تأمين او د تاجيکستان د ارضي تماميت په هکله روا دي.

**پنځلسم اصل:**

د تاجيکستان تبعه هغه شخص دی چې د تاجيکستان د اساسي قانون د اصولو د منلو په ورځ د تاجيکستان د جمهوريت تابعيت ئې درلودلی وي.

د تاجيکستان د دولت تبعه دبل دولت تبعه نښې ګڼل کيدای، پرته له هغو حالاتو چې په قانون او نړيوالو مؤافقتنامو کې چې تاجيکستان د دولت او نورو دولتونو ترمنځ تړل شوي وي. د تابعيت قبولول او له هغه څخه وتل د اساسي قانون له لياري تنظميږي.

**شپاړلسم اصل:**

د تاجيکستان دهيواد تبعه ( وګړی) په بهرکې د تاجيکستان د دولت تر ساتنه لاندې دی. دتاجيکستان د جمهوريت هيڅ يو تبعه خارجي دولت ته نه سپارل کيږي. د جنايت کوونکي سپارل يوه بهرني هيواد ته يوازې د تړل شويو تړونونو له مخې حل کيږي. ديوه بهرني هيواد وګړي او بې تابعيتو اشخاصو د اعلام شوي حقوق او آزادي د تاجيکستان په جمهوريت ګټور کيږي او لکه د تاجيکستان د تبعه (وګړي) په څيرې دندې او مسووليت لري، دهغو حالتو پرته چې قانون ئې وړاندوينه کړيده. د تاجيکستان دولت د هغه بهرني هيواد تبعه ته چې په متبوع هيوادکې ئې انساني حقوق تر پښو لاندې شوي وي، کولي شي سياسي پناه ورکړي.

**اولسم اصل:**

ټول افراد د قانون او محکمې په وړاندې يوشان دي.دولت ټولو افرادوته پرته د هغوی د ملت، نژاد، جنس، ژبې، ديني عقايدو، سياسي موقعيت، ټولنيز وضعيت، پوهه اوعلوم، شتمنی د هغوی حقوق او آزادي تضمينوي.نارينه او ښځې برابر حقوق لري.

**اتلسم اصل:**

دهيواد ټول افراد دژوند او ژوندانه کولو حق لري. هيڅ يو دهيواد دوګړو څخه د ژوندانه څخه نه محروميږي پرته له دې چې د محکمې د حکم له مخې چې دروند جنايت ئې تر سره کړی وي، عملي کيږي. شخصي ژوند د تصرف وړ نه دی. هيچاته ځورونه اوغير انساني چلند روا نه دی. په اجباري ډول د انسان طبي او علمي آزمايښت ممنوع دی.

**نولسم اصل:**

ټول افراد د محکمې حق درلودنکي دي. هغه اشخاص چې د خپلو حقوقوداستيفأ لپاره د دعوی د وړاندې کولو حق لري او د محکمې قاضي ښائي چې په موضوع کې به ټول واک او بې طرفي رسيدګي وکړي، هيڅ يو دهيواد د وګړو د قانوني مجوز پرته نيول، حبس اوتبعيد نه شي کيدای. هر شخص دنيولو له شيبې د وکيل له مرستې ګټه اخيستی شي.

**شلم اصل:**

هيڅوک دمحکمې د حکم ترصادريدو مجرم نه پيژندل کيږي. هيڅوک د هغه عمل په خاطر چې په تيره زمانه کې جرم نه ګڼل کيده او دهغې له خوا ترسره شوی وو، نشوکولی جزا ورکړو. ديوه تر سره شوي جرم لپاره يو شخص دوه ځلې نه مجازاتيږي.

هرکله چی یو شخص دقانون سره سم د مجازاتو وړ وی، نشوکولی د نوی قانون پر بنسټ چی شدید مجازات ولری، د شخص لپاره ئی و کارو( د مجازاتو ملاک نسبت اشخاصوته دقانون له نظره د جرم د واقع کیدو زمان دی که هر څو د نوی قانون له مخی ئی جزاګانی درندی شوی هم وی.)

که چیری د شخص عمل د نوی قانون پر بنسټ جرم ونه ګڼل شی اویا د نوی قانون له مخی د سپکو مجازاتو وړ وی، د قانون دپلی کیدو ملاک د نوی قانون وی، د اموالو او ملکیتونو په مطلق ډول نسبت و محکوم ته ممنوع دی.( نشوکولی د محکوم علیه ټول املاک او اموال مصادره کړو).

**یوویښتم اصل:**

دمظلوم دهغهو حقوقو چی له لاسه ئی ورکړی استیفاً قانون تضمینوی.دولت د محکمی تشکیل او مظلوم ته وراوښتی ضرر او زیان جبران ته تضمین ورکوی.

**دویښتم اصل:**

د اشخاصو کور د تعرض څخه مصوون دی. په جبر او عنف سره کورته داخلیدل او د اشخاصو محرومول که کورڅخه ممنوع دی، مګر په هغو مواردوکی چی قانون ټاکلی دی.

**درویښتم اصل:**

د اشخاصو د مکاتباتو، تیلفونی خبرو، تلګراف او تکس ... محرمیت دقانون له نظره تأمین وی. د دی مواردو افشأ ممنوع دی مګر په هغو حالاتو کی چی قانون اجازه ورکړی وی.

دانسان د شخص ژوندانه په هکله د هغه له رضایت پرته د اطلاعاتو ټولول، ساتنه او خپرول ممنوع دی.

**څلورویښتم اصل:**

هریو د هیواد دوګړو څخه د میشتوو د ځای له هیوادڅخه بهر مسافرت او هیواد ته د بیرته راګرځیدو حق لریږ

**پنځه ویښتم اصل:**

دولت، دولتی مقامات او هغه اشخاص چی دمقاماتو لرونکی وی دنده لری افرادوته اسانتیاوی او وسایل هغو اسنادوته چی د دوی حقوقو او ګټوته اړه لری، د آشنائی زمینه برابره کړی مګر په هغو مواردو کی چی منع کړی وی.

**شپږویښتم اصل:**

هرڅوک حق لری په آزاده د خپلواکه توګه خپل دین وټاکی شخصاً اویا له نورو سره له هغه دین څخه پیروی وکړی ویائی ونه کړی او په دینی دودونو او مسراسموکی ګډون وکړی.

**اوویښتم اصل:**

هریو د ملت له وګړو څخه حق لری چی په خپله، اویا د خپل استازیتوب له لاری په سیاسی، ټولنیز او اداری ژوندانه کی ګډون وکړی.

اتباع له دولتی خدماتو څخه داستفادی له حیثه له یوبل سره یو خیل دی.

وګړی له اتلسو کالوسن څخه وروسته د انتخابیدو او انتخاب کولود حق درلودنکی دی. هغه وګړی چی د محکمی دحکم پربنسټ له ټولنیزو حقوق څخه بی برخی شوی وی په انتخاباتو کی د رأی ورکولو حق نه لری.

انتخابات اوعمومی رأی په عمومی، برابر، مستقیم، په پټه توګه او شخصی رأی په بڼه تر سره کیږی.

**اته ویښتم اصل:**

اتباع حق لری چی په اتحادیو کی سره یو موتی شی. په اتحادیو، ډلو، سیاسی ګووندونوکی غړیتوب یا له هغو څخه وتل اختیاری دی.

**نهه ویښتم اصل:**

اشخاص کولای شی په غونډو اویا مظاهروکی دقانون سره سم ګډون وکړی. دوګړو مجبورول په غونډوکی د ګدون یا نه ګډون لپاره په جبری ډول ممنوع دی.

**دیرښم اصل:**

اشخاص په خپل بیان او لیکلو کی آزاد دی. د بیان او لیکلو سانسور او د افرادو هغه نیوکو چی د دولت په اړه کی تعقیبیدل ئی ممنوع دی.

**یودیرښم اصل:**

اشخاص حق لری په یوازی یا ډله ایز، توګه دولتی اداراتو ته مراجعه وکړی.

**دودیرښم اصل:**

هرشخص حق لری د ملک او میراث څښتن اووسی.

هیڅ څوک حق نکری چی اشخاص د مالکیت له حقوقو څخه محروم او محصور کړی. د مالونو نیول د دولت د اړتیاو لپاره یوازی دمال د څښتن درضایت پراساس او د هغه مالک ته بیی د ورکړی څخه وروسته اخیستل کیږی.

مادی او معنوی ضرر چی د وګړو یا دولتی مقاماتو له خوا په غیرقانونی توګه رامنځ ته شوی وی د قانون له مخی د مقاماتو د مال اوحساب څخه اخیستل کیږی.

**دری دیرښم اصل:**

دولت له کورنی څخه د ټولنی د بنسټ په توګه ساتنه کوی. هرڅوک د ژوندانه دجوړولو حق لری. نارینه اوښځی چی د ازدواج سن ته رسیدلی وی پرته له هیڅ ډول ممانعت څخه دیو بل د ازدواج عقدته ور داخل شی. د ژوندانه د تښکیل لپاره ښځی او نارینه د حقوقو له حیثه له یو بل سره برابردی.

دازدواج تعدد ممنوع دی.

**څلوردیرښم اصل:**

مور او ماشوم د ساتنی او مرستی له حیثه د دولت د خاصی پاملرنی وړ دی. والدین د خپلو کوچنیانو او بالغو اولادونو تربیی، حضانت اوساتنی له حیثه مسوول دی. دولت دیتیمو او بی سرپرسته کوچنیانود ساتنی لپاره اړی مرستی کوی.

**پنځه دیرښم اصل:**

هرڅوک کولی شی هغه شغل ته چی مینه لری غوره ئی کړی. دکار مزد نباید له هغه مزد د محنت څخه کم وی دکار د تر سره کولو مزد چی وګړو ته ورکول باید په مساوی ډول ورکړی.

هیڅ څوک نشی کولی چی د یوکار په ترسره کولو مجبورکړو، مګر په هغو مواردوکی چی قانون ټاکلی وی.

په سختو او خطرناکو کارونوکی له ښځو، کوچنیانو او نا بالغو وګرو څخه ګټه اخیستنه ممنوع دی.

**شپږدیرښم اصل:**

هر کس د میشتدو حق لری، دغه حق دولتی، عمومی او خصوصی شرکتونو ته د دولت له لوری تأمینیږی.

**اوودیربښم اصل:**

د ملت دوګرو څخه هريو د تفريح او استراحت له حق څخه مستحق دی، دغه حقوق د قانون پر بنسټ ټاکل کيږی. هر يو له وګړو څخه په ورځ، اونی، اوکال کی د استراحت له حق څخه برخمن دی. د استراحت دورځو د دولت لخوا تامينيږی.

**اته دیربښم اصل:**

د ملت د افرادو څخه هريو د روغتيا او سلامتيا حق لری، د وګړو د سلامتی حق د تداوی او طبی مراکزو له لاړی د پيسو له ورکړی پرته تامينيږی ( تداوی په مراکزوکی د افرادو درملنه د وجی ورکړه نه غواړی ).

د درملنی او روغتيا د نورو مراکزو ډولونه قانون سره ټاکل کيږی.

**نهه دیربښم اصل:**

اشخاص دزړښټ، ناروغی، دغړی د نقص، د کار د قابليت دکموالی له سر پرسته محروميت او نورو مواردوکی په وخت کی چی عادی قانون ټاکلی دی د ټولنيز تأمين له حقوقو څخه برخمن کيږی.

**څلويښتم اصل:**

اشخاص حق لری په فرهنګی، علمی او هنری ټولنو او ډلوکی ګډون وکړی او دهغو د لاسته راوړ څخه ګټه ترلاسه کړی. دولت دفرهنګی اومعنوی شتمنی څخه ملاترکوی.

معنوی مالکيت دقانون په حمايت کی دی.

**يوڅلويښتم اصل:**

هرشخص د تحصيل حق لری. دولت د زده کړی لپاره د ښوونځيو او مراکزو د جوړيدو څخه ملاتړ کوی. دغه ښوونځی د پيسو له ورکړی پرته هغوی ته معلومات ور زده کوی.

د نورو علمی معلوماتو بڼی د قانون سره سم ټاکل کيږی.

**دوڅلويښتم اصل:**

د تاجيکستان دهيواد په خاوره کی اشخاص دنده لری د اساسی قانون او نورو عادی قوانينو اصول رعايت کړی. د نورو حقوق او شرف ته په درنه سترګه وګوری. دقانون څخه ناپوهی دوګړو ځواب ویل نه مستثنی کوی.

**دری څلويښتم اصل:**

دهيواد حفظ اوساتنه، د هغی څخه ملاتړ، د دولت ګټی د خپلواکی او امنيت ساتنه د ملت د هر وګړی دنده ده. د عسکری د خدمت ترتيب د قانون لخوا ټاکل کيږی.

**څلور څلويښتم اصل:**

د طبيعی مواهبو، طبيعت، ځمکه، شتمنو اوطبيعی منابعو، تاريخی او فرهنګی آثارو حفظ او ساتنه او دهغوی څخه دښه ګټه اخيستنه د تاجيکستان د هيواد د ملت دهر وګړی دنده ده.

**پنځه څلويښتم اصل:**

د مالياتو ورکړو چی قانون ټاکلی دی د هر شخص دنده ده. هغه قوانين چی د مالياتو د ورکړی نوی بڼه ټاکی او پدی توګه کی د خلکو اقتصادی وضع درندوی، اجرائی قابليت نلری ( قانون عطف ماسبق ته نه کوی ).

**شپږ څلويښتم اصل:**

د ملت د وګړو حقوق او آزادی ګانون، خپلواکی او ځمکنی بشپړتیا د طبیعی آفاتونو د صریح تهدید په وخت کی چی دهغه په پایله کی د اساسی قانون مقامات ونه شی کړی په مستقل عمل وکړی، دمؤقتی تدابیرو په نیولو سره دوګړو د حقوقو د ساتنی په موخه فوق العاده وضعیت اعلانیږی. د فوق العاده وضعیت موده تر دریو میاشتو پوری ده.

په ضروری مواردوکی جمهور رئیس کولی شی تاکل شوی موده وغزوی.

**اوو څلویښتم اصل:**

د فوق العاده وضعیت په دوره کی هغه حقوق او آزادی چی د اساسی قانون په 16، 17، 18، 19، 20، 22، 25، 28 اصولوکی ئی وړاندوینه شوی، نه محدودیږی. د فوق العاده وضعیت د اعلان په وخت کی عالی مجلس نه منحلیږی. دفوق العاده وضعیت حقوقی نظام د اساسی له لاړی ټاکل کیږی.

## دویمه برخه

## عالی مجلس

**اته څلویښتم اصل:**

د تاجیکستان په جمهوریت عالی مجلس لوړ مقام، قانون جوړونکی او دقانون وضع کوونکی دی. د عالی مجلس غړی دپنځو کالونو د مودی لپاره ټاکل کیږی. دمجلس دغړو سن نباید چی د 25 کالو څخه ټیټ وی. د عالی مجلس جوړښت او دفعالیت ډول د قانون له مخی ټاکل کیږی.

**نهه څلویښتم اصل:**

**دعالی مجلس صلاحیت:**

1. دقانون وضع او تغییر او یا دهغه اصلاح او یا لغو.
2. د اساسی قانون او عادی قوانینو تفسیر.
3. د تاجیکستان د جمهوریت د کورنی او بهرنی سیاست دپالیسی تعیین.
4. د انتخاباتو او ټول پوښتنی د مرکزی کمیسیون ( کمیټه ) تأسیس .
5. دټول پوښتنی تعیین.
6. د قوانینو د طرحی او نورو دولتی مهمو مسایلو تیارول د ټول ښوښتنی لپاره.
7. د جمهوری رئیس د انتخاباتو ټاکل.
8. د عالی مقاماتوداو سیمه ایزو استازو د ټول ټاکنو تعیین.
9. د وزارتونو او دولتی کمیټو د تشکیل قبول او انحلال.
10. دهغو افرادو چی د لومړی وزیر، مرستیال، وزیرانو او د دولتی کمیټو د رئیسانو چی ورپیژندل شوی، تصدیق او قبولول.
11. دملی بانک د رئیس او دهغه د مرستیال به هکله د جمهور رئیس د فرمان تصدیق د هغو د ټاکلو یا لیری کولو په هکله.
12. د اساسی قانون د اصولو د محکمی د رئیس، مرستیال او غړو داقتصادی عالی محکمی د رئیس، مرستیال او غړو ټاکنه او قبولول د جمهور رئیس دوړاندنیز سره سم.
13. د لوی څارنوال او دهغه د مرستیالانو د ټاکلو او لیری کول.
14. د اقتصادی، ټولنیزو پروګرامونو تصدیق او نورو هیوادونوته د اقتصادی مرستو قبول.

15. د دولت د بودجې تصديق، دټول هيواد د بودجې تعيين او د دولت د بودجې دکسر په صورت کې د هغه د جبران ډول ټاکل، د بودجې پر اجرأ نظارت، دهيواد د پولي سياست ټاکل، هغه پور اخيستنې چې له بهرنيو هيوادو څخه او نورو هيوادنو ته دپور ورکولو اجازه.

16. دپولي او مالي سياست ټاکل.

17. د ولايتونو او ناحيو دپولوټاکل په ضروري مواردوکې په هغو د بدلول راوستل.

18. دنړيوالو تړونونو او مؤافقتنامو تصديق او قبولول.

19. دمحاکمو تأسيس او تنبکيل.

20. د جمهور رئيس د وړاندنيزونه تصديق او قبولول د جګړې، سولې او فوق العاده وضعيت په هکله.

21. د دولتي نښانونو تصديق او قبول.

22. دپوځې، ديپلماسي رتبو اومخصوصوعناوين مشخص کول.

23. د دولت د مهرتصديق.

24. دعمومې عفو اعلان.

25. دعالي مجلس د رياست د مصوباتو لغو په هغو مواردوکې چې دغه مصوبات د اساسي قانون او نورو قوانينو سره متضادوی.

26. د هغو صلاحيتونو اجرأ او عملي کول چې اساسي قانون او عادي قانون هغه ټاکلي وي.

**پنځوسم اصل:**

د عالي مجلس بڼه او فعاليت له اجلاسيه سره دی.

دعالي مجلس اجلاسيه د عالي مجلس د رياست لخوا په کال کې دو ځله جوړيږي دعالي مجلس لومړنی اجلاسيه د انتخاباتو او ټول پوښتنې، کميټې له لوري يو مياشت وروسته د خلکو د استازو له ټاکلو وروسته تشکيليږي.

دعالي مجلس اجلاسيه هغه وخت جوړيږي چې د خلکو د استازو دوه پر دريمه برخه ګډون ولري.

**يو پنځوسم اصل:**

د مجلس د کار او ملت د استازو د حضور بڼه د اساسي قانون او عادي قانون سره سم ټاکل کيږي. د مجلس رياست دعالي مجلس د رئيس په غاړه دی. دعالي مجلس د رياست په هيأت کې، د مجلس رئيس، دهغه لومړی او دوهم مرستيالان د مجلس د دايمي کميټو رئيسان ليدل کيږي. عالي مجلس کولی شي د خلکو د عالي مجلس نور استازي هم دغړي په توګه انتخاب کړي.

**دوپنځوسم اصل:**

دعالي مجلس د رياست صلاحيت عبارت دی له:

1. دعالي مجلس بلنه.
2. دعالي مجلس د اجلاسيو تشکيل.
3. دعالي مجلس د کميټو، دايمي کميسيونونو، ترتيب او تشکيل.
4. د بين پارلماني اړيکو تشکيل.
5. دعالي نشريو فعاليت رهبري کوی د نشرياتو د مسوولين او مديران ټاکي او هغوی عزل او نصبوی.
6. په نورو هيوادونوکې د تاجيکستان د دولت د ديپلماسي د مشرانو او همدارنګه په نړيوالو سازمانونوکې د استازو قبول.

7. دهغوی صلاحیتونو چی اساسی قانون او عادی قانون هغه ټاکلی دی. اجرأ او عملی کول، دعالی مجلس ریاست دهغو خپل صلاحیت په حدودکی هغه قبول او عملی کوی.

**دری پنځوسم اصل:**

عالی مجلس د خلکو د استازو څخه، دعالی مجلس رئیس، د عالی مجلس لومړی مرستیال، د رئیس مرستیالان، د عالی مجلس د کمیټو او دایمی کمیسیونونو رئیسان انتخابوی.

یو دعالی مجلس د مرستیالانو څخه د خلکو استازی د بدخشان د خودمختاره ولایت څخه دی. د عالی مجلس رئیس د مجلس د استازو د اکثریت په پټو او مخفی رایو انتخابیږی.

**څلور پنځوسم اصل:**

د مجلس رئیس صلاحیت عبارت دی له:

1. دهغو مسایلو رهبری اولاربښونه چی په اجلاسیه کی څیړل کیږی.
2. داجلاسیه ریاست او دعالی مجلس ریاست دهغه په غاړه دی.
3. دعالی مجلس دلومړی مرستیال، د رئیس د مرستیالانو، د کمیټو او دایمی کمیسیونونو د رئیسانو وړاندنیز له هغه سره وی.
4. دعالی مجلس او دهغه د ریاست مصوبی لاسلیک کوی.
5. دعالی مجلس استازیتوب د هیواد دننه او بهر د هغه په غاړه دی.
6. بین المجالس نړیوال ترونونه لاسلیکوی.
7. د عالی مجلس لاربښونه او مشری به غاړه لری.
8. دنورو هغو صلاحیتونو چی اساسی قانون او عادی قانون ټاکلی، اجرأ او عملی کول.

**پنځه پنځو سم اصل:**

لومړی مرستیال او دعالی مجلس مرستیالان د هغه په مشوری او د مجلس د رئیس له لزوم دید سره د هغه نوری دندی ترسره کوی. د عالی مجلس د رئیس دنه شتون په صورت کی لومړی مرستیال د هغه دندی تر سره کوي.

**شپږپنځوسم اصل:**

عالی مجلس د قانونی لایحی د ترتیب او شکل نیونی لپاره دډول او دهغی دڅیړنی لپاره د خلکو دکمیټی او دایمی کمیسیونه جوړوی، مجلس په ضروری حالاتوکی د څیړنی او تفتیش او نور کمیسیونو تشکیلوي.

**اووپنځوسم اصل:**

د عالی مجلس غړی حق لری د هرمنصب لرونکی هغه معلومات ترلاسه کړی چی د هغه د استازیتوب د دندو د ترسره کولو لپاره ضروری وی. دعالی مجلس استازی کولای شی خپل افکار او عقاید په آزاده توګه څرګند کړي.

**اته پنځوسم اصل:**

وکیل (دعالی مجلس استازی) پرته د استازیتوب له دندي بله دنده، په استثنا دعلمی فعالیتو باندی مشغول شی.اتباع تاجیکستان نشی کولی په عین وخت کی د دووارګانونو څخه زیات نمایندګی وکړي.

**نهه پنځوسم اصل:**

دعالی مجلس استازی تعرض نه منونکی دی. پرته دعالی مجلس له مؤافقی حبس، د بیان په اظهاراتوکی اجبار او د جریمی ورکړه ممنوع دی.

دعالی مجلس د استازی نیونه د عالی مجلس د اجازه او موافقی پرته ممکنه نه ده، مگر د جنایت، د استعفا په صورت کی یا د محکمې دپریکړې پراساس د نمایندگی څخه عزل شوی وی د هغه ارتباط له عالی مجلس سره پری کیږي. د عالی مجلس د استازی د حقوقو او مزایاو بڼه د قانون سره سم ټاکل کیږي.

**شپیتم اصل:**

د خلکو استازی، جمهور رئیس، د اساسي قانون محکمه، اقتصادی عالی محکمه او دبدخشان د ولایت د استازو مجلس د قانونی لایحي دوړاندنیز حق لري.

**یو شپیتم اصل:**

دعالی مجلس مصوبات او قانون د مجلس داکثریت آراو سره قبلیږي.

دهغو قوانینو تصویب چی اساسي قانون ئی وړاندوینه کړیده د خلکو د مجلس د ټولو استازو د دوه پر دریمه سره قبلیږي.

**دوشپیتم اصل:**

د تاجیکستان مجلس قانون (مصوبه) د لاسلیک لپاره جمهور رئیس ته پیشنهادوی.که چیري جمهور رئیس له مصوبې سره رضایت ونلری هغه د (15) ورځو په ترڅ کی د نقص د مواردو او دهغه د رفع سره بیرته مسترد وي. که چیری عالی مجلس خپل پخوانی تصویب په دو پردریمه برخی تصدیق کړ، جمهور رئیس بایدهغه لاسلیک کړي. که چیری جمهور رئیس په ټاکل شوي موده د (15) ورځو په ترڅ کی مصوبه ئی ونه گرځو له، موظف دی هغه لاسلیک کړي.

**دری شپیتم اصل:**

عالی مجلس کولای شی په اختیاری توگه د استازیتوب د مودی دختم څخه وړاندي د استازیتوب موده خلکو د استازو د دوو پردریمه برخی په رأی سره منحل کړي. په کلی ډول د تاجیکستان د خلکو استازو واک د اجلاسیه د گډون د بلنی د لومړی ورځی څخه قطعی کیږي.

## دریمه برخه

## جمهور رئیس

**څلور شپیتم اصل:**

جمهور رئیس، د دولت رئیس د حکومت اجرائی حاکمیت له هغه سره دي.

جمهور رئیس د اساسي قانون د اصولو او نورو عادی قوانینو مجری دی. د ملت د افرادو حقوق او آزادی، د هیواد خپلواکی، د ځمکنی بشپړتیا ساتنه او دولت برقراری، د دولتی مقاماتو همغږي او د مقاماتو ارتباط د نړیوالو مؤافقتنامو او تعهدات د جمهور رئیس له دندو څخه دی.

**پنځه شپیتم اصل:**

د تاجیکستان ملت جمهور په عمومی، مستقیم او شخصی پټو اریو سره د پنځو کالونو لپاره ټاکی. هر یو د تاجیکستان د افرادو (وگړی) څخه چی عمرئی (35) څخه تر (65) کالو پوری ولري او تاجیکی ( دولتی ) ژبی باندی پوه وی او دتاجیکستان په هیوادکی لږ تر لږه (10) کاله استوگنه ولری کولی شی د جمهوری ریاست ته نوماند شی چی لږ تر لږ % ۵ رأی ورکونکی د هغه د نوماندی لپاره رأی ورکړي. جمهور رئیس له دوو دورو څخه زیات نشی کولی جمهوری ریاست ته و ټاکلی شی.

**شپږ شپیتم اصل:**

د جمهور رئیس انتخاب هغه وخت معتبر دي چی په هغه کی د افرادو د نیمائی ډیرو ګډون درلودلی وی، هغه نوماند دجمهور رئیس په توګه  پیژندل کیږی چی په ټاکنوکی د ګډون والو څخه له نیمائی  زیاتو هغه ته مثبته رأیه ورکړی وی.

د جمهور رئیس د انتخاب ترتیب د قانون له خوا ټاکل کیږی.

**اووښپیتم اصل:**

جمهور رئیس د جمهوری ریاست د څوکی له پیل څخه د مخه په عالی مجلس کس په دی توګه لوړه یادوی:(( زه د جمهوری ریاست د عنوان په توګه لوړه یادوم چی د اساسی قانون او دجمهوریت د قوانینو ساتنه کوم، دوګړو حقوق، آزادی او شرف تضمینوم. د تاجیکستان ځمکه، سیاسی، اقتصادی، او فرهنګی استقلال ساتنه کوم او دتاجیکستان ملت ته په ربنتینولی خدمت کوم)). د جمهوری ریاست استازیتوب له لوړی څخه وروسته قطعی کیږی.

**اته ښپیتم اصل:**

جمهور رئیس نه شی کولی د جمهوری ریاست له دنده څخه پرته بله دنده ولری. دجمهور رئیس حقوق او ګټی د عالی مجلس لخوا معینیږی.

**نهه ښپیتم اصل:**

د جمهور رئیس صلاحیتونه عبارت دی له:

1. د تاجیکستان د ملت استازیتوب د هیواد دننه او په نړیوالو اړیکوکی.
2. وزارتونه او دولتی کمیټی د عالی د مجلس له رضایت سره تأسیس او منحلوی.
3. لومړی وزیر، لومړی مرستیالان، دلومړی مرستیال لومړی معاون، وزیران د کمیټو رئیسان تعیینوی اویائی عزلوی اود تصدیق ( داعتماد رأی ) لپاره ئی عالی مجلس وړاندیزوی.
4. دمل بانک د رئیس او دهغه د مرستیالانو تعیین اوعزل.
5. اجرائی دستګاه ( دجمهور رئیس دفتر ) تاسیسوی.
6. د بدخشان د غرنی خودمختار ایالت د رئیس ټاکل ولیری کول، د ولایتونو ددوشنبی د ښار او ناحیی رئیسان د هغوی داړوند مجلسونو د پیشنهاد تائید ټاکل اولیری کول.
7. د اساسی قانون د محکمی د رئیس، مرستیالانو او قاضیانو نوماندول، د اقتصادی عالی محکمی د رئیس، مرستیالانو او قاضیانو انتخاب او  داعتماد رأی لپاره عالی مجلس ورپیژندنه.
8. دعالی مجلس له رضایت سره دلوی څارنوال او دهغه د لومړی مرستیال ټاکل او دهغوی عزل کول.
9. د عدلیی د وزیر  په وړاندنیز د پوځی څارنوال، د بدخشان د خودمختاره ایالت د څارنوالانو، دولایتونو ، د دوشنبی د ښار او نورو ښارونو او ناحیو د څارنوالانو ټاکل اولیری کول.
10. د عمومی خزانه داری متعدی او مسوول دی او لازم اطلاعات عالی مجلس ته وړاندی کوی.
11. دهیواد د پولی سیستم د تنظیم لپاره عالی مجلس ته وړاندنیز وړاندی کوی.
12. د عالی مجلس مصوبات لاسلیکوی.
13. دولتی مقاماتو اسناد او دهغوی اقدامات په هغه صورت کی چی د اساسی قانون او یا عادی قانون سره مغایر وی، لغوه کوی ئی.
14. د تاجیکستان دهیواد بهرنی سیاست رهبری کوی. نړیوال مؤافقتنامی او قراردادونه لاسلیک او دتصویب لپاره ئی عالی مجلس ته وړاندنیز وی.

15. نورو هیوادونوئی د سفیرانو او د دیپلماسی د نمایندګی مشران او همدارنګه په ټرونونو او په نړیوالو کنفرانسونوکی د تاجیکستان د جمهوریت داستازو د ګدون لپاره، د عالی مجلس د توافق سره سم ټاکی.

16. دبهرنیو هیوادونو د سفیرانو او استازو باورلیکونه قبولوی.

17. جمهور ریاست د تاجیکستان د هیواد د مسلحو قواوو دعمومی قوماندان دی.د تاجیکستان دهیواد او پوځی قواوو مشران ټاکی.

18. د واقعی خطر په وخت کی دفوق العاده حالاتونه اعلاموی او فرمان ډیر ژر د تصویب لپاره عالی مجلس ته وړاندی کوی.

19. د جمهوریت په ټوله خاوره کی ویا په خاصو نقاطوکی فوق العاده وضعیت اعلاموی او سمدلاسه ئی د تصویب لپاره عالی مجلس ته وړاندی کوی او دملګرو ملتونه سازمان ته اطلاع ورکوی.

20. دهیواد د امنیت شورا تاسیسوی او هغه رهبری کوی.

21. سیاسی پناهندګی ورکوی.

22. دوګړو د تابعیت د قبول او یا دتا بعیت د رد مساله حلوی.

23. د عفو اعلام کوی.

24. عالی جنګی نښانونه، دیپلماسی رتبی او نورو عناوینو ورکړه کوی.

25. د ټولنی افرادوته د تاجیکستان دهیواد دولتی نښانونه او نور افتخاری عناوین ورکوی.

26. د نورو هغو اعمالو اجرأو تر سره کول چی اساسی قانون او عادی قوانینو د جمهور رئیس په غاړه ایښی دی.

**اویایم اصل:**

جمهور دخپل صلاحیت په اړانه کی فرمان ورکوی. دهیواد اوضاعو په هکله عالی مجلس ته اطلاعات او خبرتیا ورکوی. په مهمو او ضروری مسایلوکی عالی مجلس ته وړاندنیزونه وړاندی کوی.

**یو اویایم اصل:**

دمړینی، استیفأ او نورو مواردوکی چی جمهور رئیس ته د دندی د اجرأ امکان نه ورکوی، دهغه وظایف دنوی جمهور رئیس ترټاکنی پوری د عالی مجلس د رئیس په غاړه به وی.د پورتنیو مواردو د راتلو سره د دریو میاشتو په موده کی دنوی جمهوری ریاست ټاکنی تر سره کیږی. دجمهور رئیس د استیعفأ او دصلاحیت دنه شتون موضوع د خلکو د استازو په اکثریت آراو سره په عالی مجلس کی حلیږی په استثنأ د هغو مواردو چی په (72) اصل کی ذکرشوی دی.

**دواویایم اصل:**

جمهور رئیس د تصرف حقوق او خلل نه منونکی لری.

دجمهور رئیس لخوا د تر سره شوی لوړی دنه مراعات کولو او دهغه لخوا د جرم او جنایت د ترسره کولو په صورت کی عالی مجلس د اساسی قانون د محکمی پراساس لړ ترلړه د مجلس د استازو د دو پر دریمی برخی لخوا مطرح کیږی. په داسی یوه حالت کی د مجلس د مخصوصی غونډی ریاست د عالی محکمی د رئیس په غاړه ایښودل کیږی او دخلکو استازی لوړه یا ددوی چی د دغی موضوع په څیړلو کی د وجدان، اساسی قانون او عدالت سره سم عمل کوی وروسته د جمهور رئیس د مسوولیت په شتون کی د موضوع په هکله تفحیص او تحقیق دوام مومی او جمهور رئیس استیضاح کیږی او دوسیه د څیړلو لپاره محکمی ته ورکول کیږی.

## څلرمه برخه

## حکومت

**دری اویایم اصل:**

د دولت هیأت ( حکومت ) عبارت دی له لومړی وزیر، لومړی مرستیال او دهغه مرستیالان، وزیران او د دولتی کمیټو رئیسان دی او دتصویب لپاره د استازو عالی مجلس ته وړاندنیزیږی. د دولت د هیأت غړی نه شی کولی بل شغل ولری او په یوه بل اشتغال لاس پوری کړی. د دولت هیأت د عالی مجلس قانون مصوبه (قرارونه او دعالی مجلس پریکړی) او دجمهور رئیس فرمانونه او اوامر اجرأ کوی.

**څلوراویایم اصل:**

د دولت هیأت د تاجیکستان د جمهوریت قوانینو چی د قوانینو انفاذ د تاجیکستان په خاوره کی حتمی دی، عمل کوی. د دولت هیأت خپل وکالت د نوی جمهور رئیس له ټاکلو وروسته، ترسره شوی گڼی که چیری د دولت هیأت تائید کړی چی نشی کولی په عادی ډول فعالیت وکړی جمهور رئیس ته د استیعفأ اعلان کوی. د دولت د هیأت ترتیب، تښکیل او فعالیت او وکالت قانون سره سم دی.

## پنځمه برخه

## سیمه ایز حاکمیت

**پنځه اویایم اصل:**

دولت خپل ټول اقتصادی، ټولنیز د دولت د بودجی لوایح د تصویب لپاره عالی مجلس ته وړاندی کوی. له نورو دولتونو څخه د پور اخیستل او نورو هیوادونوته پور ورکول دعالی مجلس په رضایت اواجازی سره حل کیږی.

د دولت د بودجی دکسر د امکان مسله او دهغه دجبران دحل بڼه عالی مجلس وړاندنیږی.

**شپږاویایم اصل:**

د سیمه ایز حاکمیت مقامات عبارت دی له مقننه اواجرائیه څخه چی دغه مقامات د خپل صلاحیت په چوکاټ کی عمل کوی، دغه مقامات د اساسی قانون او نورو عادی قوانینو، دعالی مجلس او جمهوری ریاست اسناد تأمینوی.

**اوواویایم اصل:**

دسیمه ایز مقننه قوی مقام په ولایتونو، ښارونو او ناحیوکی دخلکو د استازو مجلس دی چی د رئیس لخوا رهبری کیږی، د محلی مجلس استازی دپنځو کالو دمودی لپاره ټاکل کیږی.د خلکو د استازو د محلی مجلس د سیمی بودجه او دهغه داجرأ رپوټ تصدیقوی، د اقتصادی او ټولنیزی ودی لاری، او اړونده ورکړی دقانون سره سم ټاکی او د خدماتی سازمانونو دکار د پرمختګ لاری چاری ټاکی اونورو وکالتونه داساسی قانون او نورو قوانینو سره سم عملی کوی.

**اته اویایم اصل:**

د مجریه قوی حاکمیت په سیمه کی د جمهور رئیس د استازی یعنی دولایت، ښار او ناحیی رئیس دی. د سرحدی واحدونو نمایندګی او مجریه قوی د رئیس سره ده.

جمهور رئیس د بدخشان د خود مختار ولایت، نورو ولایتونو، دوشنبه ښار او نور ښارونه او د ناحیو رئیسان ټاکی او عزلوی او دهغوی نوماندی د تصدیق لپاره اړونده مجلسونو ته وړاندی کوی. رئیس اړونده ذیصلاح مقاماتو او دولایت د استازو مجلس ته مسوول دی. د خپل په پښو دریدو مسوول په کلیوکی جماعت دی. د سیمه ایز حاکمیت تشکیل اودهغوی دفعالیت بڼه د قانون سره سم تنظمیږی.

**نهه اویایم اصل:**

د استازو مقامات او رئیس د خپل صلاحیت په چوکاټ کی حقوقی اسناد چه د هغوی پلی کول حتمی اجرأ کوی. که چیری دغه اسناد داساسی قانون او عادی قوانینو سره سم نه دی، دغه اسناد د اړوندی ذیصلاح محکمی لخوا لغو کیږی.

**اتیایم اصل:**

که چیری د بدخشان دولایت او نورو ولایتونو، د دوشنبه ښار اونورو ښارونو دمحلی استازو مجلس اساسی قانون  او نور عادی قوانین په منظم او مرتب ډول پلی نکړی، عالی مجلس کولی شی هغه مجلس منحل او نوی ټاکنی ترسره کړی.

## شپږمه برخه

## د بدخشان غرنی مختاره ولایت

**یو اتیایم اصل:**

د بدخشان غرنی مختاره ولایت د تاجیکستان دجمهوریت ترکیبی اونه بیلیدونکی برخه ده.د بدخشان غرنی مختاره ولایت حدودپرته دخلکو د استازو دمجلس له رضایت اوتوافق څخه تغییر نه مومی.

**دوااتیایم اصل:**

د تاجیکستان دخلکو استازی د بدخشان غرني مختاره ولایت څخه په قانون کی د ټاکل شویو اصولو اومعیارونو سره سم او دنفوسو له پام کی لرلو پرته ټاکل کیږی.

**دری اتیایم اصل:**

د بدخشان غرني مختاره ولایت صلاحیت په ټولنیزو، اقتصادی، فرهنګی او د ولایت نور صلاحیتونه د اساسی قانون لخوا تنظمیږی.

## اوومه برخه

## محاکم

**څلور اتیایم اصل:**

قضائیه قوه (محاکم) مستقله قوه ده، د اشخاصو، سازمانونواو مؤسساتو حقوق او آزادی محترم ګڼی او عدالت تضمینوی. قضائیه قوه د تاجیکستان په جمهوریت کی جوړه شوی له داساسی قانون محکمه، عالی اقتصادی محکمه، د بدخشان غرنی مختاره ولایت محکمه، دولایتونو محاکم، د دوشنبی د ښار اونورو ښارونو او ناحیو محکمی، د خاصو او فوق العاده محکمی تښکیل ممنوع دی، د محاکمو تښکیل، دفعالیت ترتیب اساسی قانون ټاکی د محاکمو وکالت پنځه کاله دی.

**پنځه اتیایم اصل:**

هغه اشخاص دعالی محکمو، اقتصادی عالی محکمی، دولایت او د دوشنبی دښار دقضاتو په توګه منصوبیږی چی عمرئی له دیرشو کالونو څخه کم او له ښپیتو کالو څخه زیات نه وی. لږ ترلږه د قضاوت په چاروکی پنځه کاله سابقه ولری هغه شخص دښار او ناحیی د قاضی په توګه منصوبیږی چی عمرئی له پنځه ویشتو کالوڅخه کم او ښپیتو کالو څخه زیات نه وی او لږ ترلږه دقضاوت په چاروکی دری کاله سابقه ولری.

**شپږاتیایم اصل:**

د پوځی محکمو، د بدخشان غرنی مختاره او ولایتونو، د دوشنبی د ښار او نورو ښارونو او ناحیو قاضیان د عدلیی د وزیر په وړاندیز د جمهور رئیس لخوا تعیین و عزل کیږی.

**اوواتیایم اصل:**

قضات په خپلو اعمالو کې بشپړ مستقل دي یوازې د اساسي قانون او د عادي قوانینو پر بنسټ عمل کوي، په قضائي چارو از قضاوت کې لاسه وهنه ممنوع ده.

**اته اتیایم اصل:**

قضاوت یا په یو پړاویز توګه اویا څو پړاویز دی. رسیدګی د قضاتو لخوا د تساوي او برابرۍ د اصل پر بنسټ و متداعینیوترمنځ تر سره کیږی.

د محکمې جلسات په علني توګه جوړیږی مګر په هغو مواردوکی چی قانون استثنأ کړی وی. په محاکمو کی دعوی ته رسیدګی په دولتي ژبه (تاجیکی) اویا د سیمی د اکثریت په ژبه کیږی. هغه اشخاص چی رسمی ژبی سره بلدنه وی د ژباړونکی له مرستی څخه په برخمن وی.

**نهه اتیایم اصل:**

داساسی قانون محکمه له اوو قاضیانو څخه مرکبه ده او دهغوی څخه د بدخشان دخودمختاره ولایت څخه دی. د دغو افرادو سن له دیرشو کالو څخه او له شپیتو څخه زیات وی. داساسی قانون دمحکمې قاضیان د علماو او حقوق پوهاند له ډلی څخه چی لس کاله د قضاوت په چاروکی سابقه ولری ټاکل کیږی.

داساسی قانون د محکمه صلاحیتونه دادی:

1. دعالی مجلس، د جمهوری ریاست، د عالی محکمې، د اقتصادی عالی محکمې او نورو دولتی مقاماتو او د تاجیکستان د دولت دهغو قرار دادونو چی لا تراوسه قانونی قوت نلری د مطابقت ټاکل له اساسی قانون سره،
2. د دولتی مقاماتو تر منځ د صلاحیتونو د کچی په هکله د اختلافاتو حلول،
3. دنوروو‌کالتونو اجرأ داساسی قانون او نورو قوانینو سره سم.

داساسی قانون د محکمې مصوبی وروستنی دی.

**نوی ایم اصل:**

محکمه نه نشی کولی چی بله دنده ترسره کړی.د استازو د مقاماتو، د سیاسی ګوندونو او سیاسی سازمانونو وکیل وی، دعلمی، تحقیقاتی او استادی له فعالیتونو پرته.

**یونویم اصل:**

قضات خلل نه منونکی حقوق لری. هغوی پرته هغو مقاماتو له اجازی چی دوی ئی انتخاب کړی حس او څواب ورکولوته الزامول ممکن نه دی.

نشولی قاضی د نیشو پرته له هغو مواردو چی د جنایت د جرم د ارتکاب په وخت کی.

**دونویم اصل:**

تصمیمات او ټولنی حقوقی مرستی د رسیدګی په ټول مراحلوکی تضمین ورکول کیږی. دوکیلانو مرسته او نورو حقوقی کومکونو د تبشکیل بڼه او دفعالیت څرنګوالی د اساسی قانون له لوری ټاکل کیږی.

## اتمه برخه

## ځارنوالي

**دری نویم اصل:**

د قانون د تدقيق پر تطبيق نظارت د تاجيکستان د دولت په ټوله خاوره کې د لوی ځارنوالي په غاړه ده او دښار او ناحيې ځارنوالي د خپلو وظايفو په چوکاټ کې عمل کوی.

**څلورنويم اصل:**

د تاجيکستان لوی حارنوال د پنځو کالو لپاره ټاکل کيږی، لوی حارنوال خپل اړوند ځارنوالان ټاکې او منصوبی يی دځارنوالانو فعاليت صلاحيت او دکړنو بنه قانون ټاکې.

**شپږ نويم اصل:**

لوی ځارنوال او په هغه اړوند ځارنوالان په مستقل ډول او مجربه قوی له مداخلی پرته عمل کوی او یوازی له قانون څخه اطاعت کوی.

**اوونويم اصل:**

ځارنوال نور دندی  نه شی کولای په نورو دندو او دمجلس وکيل اووسی، د سياسی ګوندونو غړی ووسی، د بل کار صاحب وی په ترله علمی، تحقيقاتی او تدريسی کارونه څخه.

## نهمه برخه

## داساسی قانون د اصولو د تغيير بڼه

**اته نويم اصل:**

د اساسی قانون تغيير اواصلاح د ټولپوښتنی له لاړی تر سره کيږی ټول پوښتنه بايد دخلکو د استازو دوه پردريمی رأی تر سره شی. دټول پوښتنی بڼه قانون ټاکی.

**نهه نويم اصل:**

داساسی قانون د تغيير او اصلاح په هکله ټول پوښتنه د جمهور يا د مجلس د استازو لږ ترلږه د دو پر دريمی برخی له خوا اعلانيږی . د اساسی قانون د تغيير وړانديز له ټول پوښتنی دری مياشتی وړاندی په مطبوعاتوکی چاپيږی.

**سلم اصل:**

جمهوری حکومت، ځمکنی بشپړتيا، دموکراتيک ماهيت، بنسټيز حقوق او د تاجيکستان د دولت د نيوی والی تغيير نه منونکی او خلل نه منونکی دی.